سمسور ودان

۲۰۲۵/۰۴/۲۳

# غـــزل

درد و غم، څړیکو، چیغو، شوګیرونو
ستا په تللو څومره ډیرو غاړه راکړه

زیارت نه وم؛ خو چې غبر د بېلتانه و
چا له خونده چا له وېرو غاړه راکړه

ته چې راغلي رندانه مجلس ته مستي
تللي راغلل؛ ځینو هېرو غاړه راکړه

د وطن زخم کې هر چا وسي وکړي
په اورونو کې را تېرو غاړه راکړه

ژوند زما دننه دومره ویره کېښووه
زما په ذات کې ببرشیرو غاړه راکړه

۲۰۲۲/۱۲/۱۹ کابل



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ